AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۱/۰۱/۰۱

# نوی کال، نوې لسیزه

**دا شعر ما د دوه زره شلم کال د هرکلي له پاره لیکلی و، خو څرنګه چې د یویشتمي پېړۍ د دریمې لسیزې له پیل سره بنه اړخ لګوي، ځکه یې اوس یو ځل بیا خپروم.**

آصف بهاند

## د نوي کال شپه

نن شپه پېړۍ لنګېږي، لور زېږوي
دا دی دریم ماشوم قدم ږدي،
مخ پر وړاندې درومي
ښه هرکلي ته یې ګډاوې او اورلوبې کېږي
خو وړاندې کلي کې چې زموږ خلک دي
خپلو بچیانو ته مړۍ نه لري
لوڅو لېړلو ته شړۍ نه لري
اوس یې لا بلې بلا ور وهلی
چې تنفس ته پاکه سا نه لري
لوړی یې ورک دی، کومه خوا نه لري
ګوره چې نور خلک خوشال خوشدل دي
زموږ کور کې ویره ده، هر ګام لوېدل دي

۲۰۱۹/۱۲/۳۱
هیدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ